Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۴۸مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۱



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- پر ایران د امریکا-اسراییلو برید د افغانستان پر اقتصاد منفي اغېز نه دی کړی

۲- د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړېدل

۳- د امو سیند پر غاړه د تخریب شوې ځمکې د بېرته رغونې طرحه د تایید وړ وبلل شوه

# پر ایران د امریکا-اسراییلو برید د افغانستان پر اقتصاد منفي اغېز نه دی کړی

د سیمې د وروستیو سیاسي او امنیتي تحولاتو سربېره د افغانستان او ایران ترمنځ سوداګریزې اړیکې په عادي ډول روانې دي. د هرات د اسلام کلا بندر مسوولینو په وینا، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو توکو لېږد رالېږد په منظم ډول روان دی. د دوی په وینا، هره ورځ شاوخوا ۶۰۰ بار وړونکي موټر له افغانستانه ایران ته او نږدې ۷۰۰ موټر له ایرانه افغانستان ته تګ راتګ کوي، چې دا چاره د سیمې د سوداګرۍ د ثبات او دوام څرګندونه کوي. د سوداګریزو لارو فعال پاتې کېدل د افغانستان له پاره مهم اقتصادي ارزښت لري، ځکه ایران د افغانستان له مهمو سوداګریزو شریکانو ګڼل کېږي. د توکو د وارداتو او صادراتو دوام د دې لامل کېږي چې د هېواد بازارونه د اړینو توکو له کمښت سره مخ نه شي او د بیو د ناڅاپي لوړېدو مخه ونیول شي. په هرات کې د ایران سرکونسل علي رضا رحمتي هم ویلي چې افغانستان ته د سوداګریزو توکو د لېږد په برخه کې هېڅ محدودیت نه شته او د دواړو هېوادونو ترمنځ تولې اقتصادي اړیکې په عادي ډول دوام لري. دغه راز، د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولینو هم هېوادوالو ته ډاډ ورکړی چې له ایران څخه د توکو واردات په منظم ډول روان دي او هره ورځ د اوسپنې پټلۍ له لارې سلګونه واګونه توکي افغانستان ته رسېږي. له ایران سره د سوداګرۍ دوام د افغانستان له پاره ډېرې مهمې اقتصادي اغېزې لري. له ایران سره د افغانستان فعاله سوداګري ښیي چې پر ایران د امریکا-اسراییلو بریدونو د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې چارې نه دي اغېزمنې کړې او د سوداګرۍ وضعیت په عادي ډول روان دی. د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو د دې له پاره چې په بازارونو کې بیې کنټرول او د احتکار مخنیوی کړی وي، نو په په دوامدار ډول د بازارونو څارنه کوي او په وروستیو ورځو کې یې په دې اړه په ځینو ولایتونو کې جدي ګامونه اخیستي دي. اسلامي امارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د سیمې روان امنیتي وضعیت به د هېواد په اقتصادي وضعیت ډېر منفي اغېز ونه کړي، ځکه افغانستان د ایران سربېره له خپلو شمالي ګاونډیانو سره هم فعالې سوداګریزې اړیکې لري، چې د سوداګرۍ بهیر ورسره په عادي ډول روان دی. دا په داسې حال کې ده چې د سیمې امنیتي تحولاتو د ځینو هېوادونو په اقتصادي وضعیت منفي اغېز کړی دی، خو افغانستان کې یې د اسلامي امارت د بریالۍ اقتصادي ډیپلوماسۍ له امله تر اوسه منفي اغېز نه دی محسوس شوی.



# د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړېدل

د افغانستان بانک د معلوماتو له مخې، د روان لمریز کال د دلوې میاشتې پر مهال د افغانۍ ارزښت د تېر کال د همدې مودې په پرتله د امریکایي ډالر پر وړاندې شاوخوا ۱۳٫۱ سلنه لوړ شوی دی. دا بدلون د هېواد د پولي ثبات د پیاوړتیا او د مالي پالیسیو د مؤثرتیا څرګندونه کوي. د افغانستان بانک مسوولینو په وینا، د مناسبو پولي او مالي سیاستونو د پلي کېدو له امله توانېدلي دي چې د افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو په مقابل کې وساتي او د نړیوالو اسعارو په بازارونو کې د شدیدو بدلونونو پر مهال د افغانیو د ارزښت د لوېدو مخه ونیسي. د دوی په وینا، مرکزي بانک د اسعارو د بازار د مدیریت له پاره لازمې وسیلې او امکانات لري او که اړتیا وي، د افغانیو د ثبات د ساتنې له پاره به تر ي کار واخلي. د ملي اسعارو ثبات د هېواد د اقتصاد له پاره مهم بنسټ جوړوي، ځکه د افغانۍ ارزښت ساتل د بازار د بیو د ناڅاپي بدلونونو مخه نیسي، د سوداګرۍ فضا باثباته کوي او د پانګونې له پاره مناسب شرایط برابروي.

دغه راز، د افغانۍ ارزښت لوړېدو او پیاوړي کېدل د دې لامل کېږي چې وارداتي توکي په مناسبه بیه بازار ته ورسېږي او هېوادوال یې د اخیستو توان ترلاسه کوي. اوسمهال د



سیمې د هېوادونو په پرتله افغانۍ ښه ثبات لري او همدا لامل دی چې د هېوادوالو او پانګوالو باور پرې ورځ تر بلې زیاتېږي. دغه راز، په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د ملي اسعارو کارول زیات شوي، چې د هېواد مالي نظام ورسره پیاوړی شوی دی. د افغانۍ ثبات د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم دی. د اسلامي امارت د بریالي پولي سیاست او د بازار د مدیریت له امله افغانۍ پیاوړې شوې او د لا نورې پیاوړتیا له پاره به یې نورې هڅې وشي.

## د امو سیند پر غاړه د تخریب شوې ځمکې د بیرته رغونې طرحه د تایید وړ وبلل شوه

په هېواد کې د اقلیمي بدلون او نورو پېښو له امله سیندونو او سیلابونو د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د ځمکو ځینې برخې تخریب کړې دي، چې له امله یې هېوادوالو او کرنیزو ځمکو ډېر زیان لیدلی دی. د هېواد شمال کې د امو سیند هم د هغو سیندونو له ډلې دی چې هلته یې کرنیزې ځمکې ډېرې تخریب کړې او په ځینو برخو کې دغه زیان تر شاوخوا شل کیلومترو اوږدوالي پورې رسېدلی دی.

د اقتصادي معاونیت د پانګونې بین الوزراتي کمېټې په وروستی ناسته کې د امو سیند پر غاړه د تخریب شوې ځمکې د بیرته رغونې طرحه په پرنسیپ کې تایید شوه. د



طرحې له مخې به د امو سیند په غاړه تخریب شوې ځمکې بیرته ورغول شي او د کرنې له پاره به چمتو شي.

طرحه کې ویل شوي چې د تخریب شوې ځمکې له رغولو وروسته به هلته کرنیز فارمونه، د مالدارۍ مرکزونه او د کرنیزو محصولاتو د پروسس فابریکې جوړې شي.

سره له دې چې د اوبو او انرژۍ وزارت له دې وړاندې هلته د ځمکې د تخریب د مخې نیولو له پاره هڅې کړې وې، خو د دې نوې طرحې پر بنسټ د تخریب شوې ځمکې رغونه په اساسي ډول کېږي.

د تخریب شویو ځمکې له رغولو سره به په هېواد کې کرنیز او حیواني محصولات زیات شي. دغه راز، د کرنیزو او مالدارۍ فارمونو له جوړېدو سره به سلګونه هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي. په ټوله کې د امو سیند د تخریب شوې ځمکې رغولو سره به د نورې ځمکې د تخریب مخه ونیول شي، کرنیز سکتور به پیاوړی شي، کورنیو تولیداتو کچه به لوړه او په نهایت کې به د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل وګرځي.